
# د صيام الدين« پسرلي» لنډه پيژندنه



صيام الدين «پسرلی» د محيط الدين زوی چې په 1369 کال د حمل د مياشتي په 9 مه د روژې مبارک مياشت په اوله نيتېه د اسلام اباد په کلي کې زيږيدلی دی، خپل لومړنی زده کړي يې د لغمان ولايت د اسلام اباد په ښوونځی کې تر سره کړی، وروسته جلال اباد ته راغلل په جلال اباد کې د چکنوريو په ښوونځی کې شامل شو، په ۸ صنف کې وو، چې شهيد محمد عارف عالی ليسې ته راغی او له همدې ښوونځي څخه فارغ شو، په دغه موده کې دې وشو کولای چې خپل اسلامې زده کړه يې د بغدادي څخه نيولي تر کنز- فقه- نکاح اسلامې کتابونو پوري ورسول، د ښوونځي تر څنګ دی د کمپيوټر، انټرنيټ او انګليسي کورسونه هم تعقيبول چې د لنډې مودې وروسته د ننګرهار په اطلاعاتو کلتور کې د LCJ په نامه د کمپيوټر، انټرنيټ ترينئر او IT Assistant په توګه خدمتي دنده په غاړه واخيست، په دغه موده کې دی کوښښ وکړ، چې اخبارونو او مجلو ته ليکنې هم وليکي او ځينې کتابونه او مجلي کمپوز کړي، دی د ښوونځی څخه لا نه وو فارغ شوی چې د ميديوتيک د اداري په درشل قدم کيښود، چې تر اوسه پورې په ميديوتيک ميډياهاوس کې په کار بوخت دی.

د ښوونځی د فراغت څخه وروسته د کانکور ازموینه یې ورکړه، چې په نیکه مرغه د ننګرهار حقوقو او سیاسي علومو پوهنځی ته کامیاب شو.
په دې وروستیو کې د انټرنیټ څنګه وکاروو په نامه یو کتاب ولیکل، دغه کتاب یې د لوستوونکو ډېر خوښ شو، چې په لږ وخت کې د دوهم ځل لپاره هم چاپ شو. دی چې د انټرنیټ علاقمندانو دغه بې کچه مینه ولیده، نو وهڅیده چې د افغانستان او نړۍ مهم او مشهورې ویب پاڼې را ټول کړي. هماغه وو چې دی دغه کتاب هم ډېر زر ولیکل او د مومند کتاب پلورنځی له خوا چاپ شو.
دا چې صیام الدین« پسرلی» د ننګرهار په حقوق او سیاسي علومو پوهنځی کې محصل دی، نو له دې وروسته د ده په وینا به هڅه وکړي چې پخپل مسلک کې ډېر کار وکړي او کتابونه ولیکي.
دی په نوی سید جمال الدین افغان انستیتوت کې د حقوق بشر په یو کلن پروګرام کې د ماشوم حقوقو د لکچرر په توګه مقرر شو.
د دغه یو کلن پروګرام ټول کاریکلم د یو کتاب په شکل چاپ شو، چې له نیکه مرغه دده برخه (ماشوم حقوق) هم په دغه کتاب کې چاپ شوي.

په درنښت
ضیاالدین « زلمی»
ننګرهار میدیوتیک



## دا لړ څه، ډېر وګڼئ!

د لومړي کتاب « انټرنيټ څنګه وکاروو؟ » )) تر چاپيدو وروسته راسره د بل داسې کتاب چاپولو فکر پيدا شو، چې په ياده برخه کې ورته ټولنه ډېره اړتيا ولري.
يو شمير لوستونکيو راته ويل چې د انټرنيټ کارولو پرمهال د غوره معلوماتي ويبپاڼو موندلو له ستونزو سره مخ وي، د همدې تشې د ډکولو په موخه مې د انټرنيټ پاڼو پتو (ادرسونو) موندلو پلټنه پيل کړه، د افغانستان او نړۍ مهمې ويبپاڼې مې وموندې او د اسانتيا لپاره مې په دې کتاب کې طبقه بندي کړې.
وايي چې ((انسان تر خپل وس پر دی)) زه هم سمدستي د همدومره پاڼو په ادرس موندلو بريالی شوی يم، چې دادی تاسې يې د ګټې اخستنې په موخه کاروئ شئ.
خو داچې انټرنيټ يوه پراخه برېښنايي نړۍ ده او هره ورځ په کې بې شميره نوې پتې(ايميل ادرسونه) رامنځته کيږي، نو زه له نورو ټولو هغو دوستانو څخه چې دې ټکنالوژۍ ته لاسرسی لري او کار په کې کوي غوښتنه کوم، چې دوی دې هم خپلې هڅې ګړندۍ کړي، تر څو زموږ ځوانان په اسانه توګه د اړوندو معلوماتي پاڼو په ليدو وتوانيږي.
د يادونې وړ بولم چې د انټرنيټ په نړۍ کې ډېرې ويب پاڼې موجودې دي، د ټولو ټولول او تشريح کول به زما له وس پوره نه وي، خو هيله ده چې له دغو راتلونکو کړيو نيټ پتو(ادرسونو) څخه ګټه ترلاسه کړئ.
په پای کې د خپلو ټولو دوستانو څخه په خاصه توګه محب الله (الله يار) څخه مننه کوم چې په ورين تندي يې د کتاب په چاپولو کې بې لاربښوونو نه يم پريښی.

په ډېره مينه
صيام الدين « پسرلی» ننګرهار ميديوتيک

---

## د پسرلي زيار

ډېره کله چې څوک د کومې موضوع لپاره کتاب پلټرنځيو ته په کتاب پيرودلو پسې ورشي او تر ډېرې ستړيا وروسته يې په موندلو بريالی نه شي، نو پرته له نهيلۍ د انټرنيټ په نړۍ تکيه کوي او سمدستي هغه ځای تر پام لاندې راولي چې ددغې برېښنايي معلوماتي زېرمې اسانتياوې ورسره وي.

خو کله کله د انټرنيټي اسانتياوو سربېره هم ځينې خلک د معلوماتو په موندلو کې لاروركي وي، دوی د اړوندو نيټپتو نه لرلو له امله بيا هم له لوی سرخوږي سره مخ وي. که يې چا مرسته وکړه ښه کنه د ګوګل له پراخې ډکې لمن تش لاس ستنيږي.
ددغه ډول خلکو د مرستې په نيت صيام الدين (پسرلي) هڅه کړې، چې په بيلابيلو هر اړخيزو راتولو کړيو برېښنا پتو يې څه ناڅه ستونزه هواره کړې.

د نبي کريم صلی الله عليه وسلم د حديث شريف مفهوم هم دی چې ((که څوک لار ورکي ته لار وښايي، نو الله به ستر اجر ورکړي)) ليکوال په دې کتاب چاپولو کې دوه ګټې وکړې:
((هم خرما هم ثواب)).

تر دي وړاندي هم د ښاغلي پسرلي د انټرنېټ کارولو یو لاربنود کتاب چاپ شوی، خو که یې داکتاب په ښارونو کې د نیټکیفیو(net café) سربیره ټولو هغو ادارو کې چې د انټرنیټ له اسانتیاوو برخمني وي شتون ولري، نو انټرنیټ کاروونکي به ترې په اسانی ګټه واخیستی شي.

هیله ده په دغه بریښنایي نړیوال جال(انټرنیټ) کې د ښاغلي پسرلي زیار زموږ د ټولنې لاروړکو ځوانانو پرمخ د ژوندانه اصلي منزل ته د رسیدو ویاړ وګرځي.

محب الله « الله یار»
ننګرهار رسنیو کور(میدیوټیک)
*********

## د نړۍ پیژندني ارزښتمنه هڅه
## د ښاغلی صیام الدین« پسرلي » راټول کړی اولیکلي کتاب دی

چې په پښتوژبه مونږ ته د افغانستان اونړۍ مهمي اومشهورې انټرنټي پاڼي یاوېب سایټونه را پیژني لیکوال هڅه کړې په دغه کتاب کې تردېره هغه انټرنټي پاڼي راوپېژني چې په افغانو پورې تړاولري اویایې لوستنه اواړیکه د افغاني ځوانانولپاره مهمه او په زړه پورې ده.

انټرنټ د اوسني وخت ترټولومهمه اړتیاده اوس نړۍ ددغه جال د مرسته پخپلو کې سره وصل ده او که موږ او پر تیره زموږځوانان له دغه نړۍ نه ناخبره پاتې شي ، بویه چې له نمائي ارزښتمن ژوندانه نه محروم دي ځکه نو د انټرنیټ پیژندنه او په هغو کې بیا د خپل ذوق مطابق د مطالعي لپاره موندنه ډیره ضروري ده او ددي لپاره بیا د انټرنیټي پاڼو پیژندل د اوسني وخت د پرمختلونکي نړۍ اساسي ضرورت دي، دصیام الدین پسرلي ښې موضوع ته پام شوي ، چې هم ځوانانو ته لاربښودې ارزښت لري اوهم د افغنستان پیژندني او نړۍ پیژندني یوه ابتدایي خواغږمنه هڅه ده موږتول باید کمپیوټر، انټرنیټ او پر مختلونکي نړۍ وپیژنو او د خپل ځان او هیواد لپاره یې په کارکړو . د دغي ورځیو مهمو موضوعاتو کتابې کول ذوق او پوهه غواړي اویقیناً چې ښاغلی لیکوال دغو دواړوته لاس رسی لري.

دلیکوالي په ډګر کي دا دښاغلي لیکوال لومړنی هڅې دي او که نیمګړتیا وي لرې ، نو په راتلونکي وخت کي به یې ورته پام شي او اصلاح به یې کړي.

زما په فکر مهمه دا ده چې دا کتاب موږته د مهمو انټرنیټي پاڼو نښې پتې په لاس راکوي او همدایې تر ټولو اغیزمنه ده ،که نور ځوانان هم دغي اړتیا وړ موضوعاتوته لاسونه وروغځوي ،نو به نیمګړتیاوې لرې شي او زموږ د ځوریدلې او پیوله ولې مخته به درنا او خپلواکی کړکی پرانستل شي.

په اسلام او پښتونولی مین
محمد داود «وفا»
جلال آباد
1389 (دلیندی )30 م

# د انټرنېټ لنډه پېژندنه

انټرنېټ له هغه نړيوال جال څخه عبارت دی، چې نړدې دنړۍ هر پوهنتون او حکومت ورسره وصل اومنځپانګه ياځولی يې له سلوملیونوويب پاڼو ډکه ده .
له دغه نړيوال برېښنايي جال سره دنړۍ په مليونونه کمپيوترونه تړلي او د معلوماتو له دغه سمندره هره شېبه په مليونونو خلک استفاده کوي.
په انټرنېټ کې له سلو څخه زيات هيوادونه ډول، ډول معلومات، خبرونه او علمي څېړنې خپروي او په دې برېښنايي جال سره ټوله نړۍ ديو کلي بڼه او شکل غوره کړی.

دانټرنېټ رامنځته کېدل ، وده اوتکامل يې:
په ۱۹٦۲ م کال کې دامريکا دهوايي ځواک له خوا Rand Paul Baran په دې وګومارل شو، چې داسې سيستم جوړکړي، تر څو پر امريکا دبريد مخه ونيسي او له بله پلوه خپل ځواک له دغو خطرونو خوندي وساتي .
Rand Paul Baran له اوږده زياره وروسته ديوې داسې شبکې دجوړولو مشوره ورکړه، چې ډېر کمپيوترونه ورسره تړلي او مهم معلومات له يوه ځايه بل ځای ته انتقالوی شي.

دغه مفکوره په ۱۹٦۹م کال کې پلې شوه، هغه مهال يوه شبکه رامنځته شوه، چې څلور کمپيوترونه يې سره تړلي وو .

په ۱۹۷۲م کال کې د BBN په نوم اداري يوتن کارکوونکي Ray Tomlinson لومړی اېمېل پروګرام جوړکړ.

ترديې دمخه يې انټرنېټ ته د ARPA (Advanced Research Project Agency) نوم اخيست، له ياد شوي پرمختګ وروسته يې ورته د DARPA ياد (The Defense Advanced Research Project Agency)
نوم خپل کړ په ۱۹۷۳ م کال کې د DARPA کارکوونکې ډله چې مشري يې Vinton Cerf ته ترغاړې وه، په دې بريالی شوه، چې يوشمير بېلا بېلې شبکې سره وصل او ګټې اخېستنې ته چمتوکړي.

په ۱۹۷٤م کال کې دلمړي ځل لپاره ددغې ډلې له خوا دغې شبکې ته دانټرنېټ نوم ورکړل شو.
له دې وروسته انټرنېټ په ډېرې چټکۍ سره دومره پراختيا وموندله چې پوځي يا نظامي ضرورتونو اړتيا يې ورپوره کړه اودټولې نړۍ دعامو خلکو په خدمت کې شو.
په ۱۹۹۱م کال کې د(world wide web) www له خوا پر ټوله نړۍ دغه جال خپورشو. دامهال د يو ځانګړي ادرس له لارې دځانګړې پاڼې د پيدا کولو پروګرام جوړشو، چې تر اوسه انټرنېټ د همدغه شان يو جال نوم دي.

ويب پاڼه څه ته وايي.

ويب پاڼه يا ويب سايټ، له انټرنېټه هغه خپرېدونکې انځوريزه، غږيزه اوليکنې بڼه ده، چې له انټرنېټ سره د وصل شوي کمپيوټر پر شېښه يا سکرين يې ليدلی، لوستلی او اورېدلی شو.

يا په بله ژبه: ويب پاڼه دشخصي، دولتي يا نورو ارګانونو انټرنيټي خپرونه ده، چې دسلګونو يا زرګونو معلوماتي توکو لرونکې ده.
يادونه: په نړۍ کې سل ميليونه سايټونه ياويب پاڼې شته، چې په سلوکې ۵۵ يې دامريکا له متحده ايالاتو خپرېږي.

دhttp/www معنا ده.

Hyper Text Transmission Protocol world wide web

*****

# انټرنېټ څنګه وکاروو

**اړيکې:**
ددي لپاره چې مورله خپلودوستانوسره اړيکه ولرو،پکارده په يوله دغو سايټونوکې خپله ID جوړه کړوچې عبارت دي له . gmail hotmail yahoo اوداسې نور .

**ادرس يا دبرېښناليک پته څنګه جوړولاى شو؟**

۱- يوه لاره يې داده چې http// www.yahoo.com سايټ پرانيزو، بياMail بکس کېکاږو اوپه پرانېستل شوې پاڼه کې د sing up بټن په کېمنډلوسره هغه فورمه ډکه کړو چې مونږته پرانېستل شوي ده .
۲- بله لاره يې دمېسنجرده چې د..Get a new yahoo ID بټنې په کېمنډلو سره دادرس دجوړولو پروسه مخې ته راځي اوله همدغه ځايه يوه نوې برېښناليک پته جوړولاى شو .
کله چې موبرېښنا ليک پته جوړه کړه ، له دغه ساعته وروسته کولاى شو ، خپلو دوستانوته که دنړۍ په هرګوټ کې وي ، ليکونه ، اسناد ، تصويرونه اوويډيويي اوپه آوازکې ثبت شوي پېغامونه ولېږو .

**خپل ادرس ته څنګه تللاى شو ؟**

لمړى په ادرس بارکې www.yahoo.com ليکو ، کله چې دغه سايټ ببرته شو ، د Mail بټن کېکاږو ، ګوروچې له مونږنه ادرس اوپاسورډ غواړي ،په بره برخه کې خپله پته ليکو ، په ورلاندې دخپل ادرس پاسورډ ياشفرليکو اوانټر کوو .
داوخت مورته هغه پاڼه پرانېستل کېږي ، چې زمونږپه نوم جوړه شوې اوور څخه کولاى شو، دپيغام لېږلواستفاده وکړو .

Inbox : په دې کې موږ ته راغلي پېغامونه يابرېښناليکونه پراته وي .
Draft : په دې کې خوندي ساتل شوي پېغامونه پراته وي .
Sent : په دې کې ټولېږل شوي پېغامونه پراته وي .

هره ليکنه د ليکوال خپل نظر دی او خپله دليکوال اند څرګندوی
استفاده از مطالب سايت « ارگان نشراتی صلح و تفاهم سعيد افغانی » با ذکر مأخذ آن آزاد است

Bulk : په دې کې د yahoo سايټ اعلانونه ، اشتهارونه اومعلوماتيپاڼې پرتې وي .
Trash : ټول Delete شوي پيغامونه پکې پراته وي .
My Photos : ټول لېږل شوي اوترلاسه شوي تصويرونه پکې پراته وي .
My attachment : ددې پروسې له لارې ټول لېږل شوي اوتر لاسه شوي پيغامونه اوتصويرونه پکې پراته وي .
Compose : مورته دپيغام ليکلو، ترتيبولو اولېږلواسانتيالري .
Chick mail :دلته خپل ترلاسه شوي پيغامونه کتلی شو .
Addresses : دخپلوټولودوستانوبريښايي پتې ياردسونه پکې خوندي ساتلي شو .
Notepad : دیادښت دکتابچې په معنی ده ، چې خپل ضروري یادښتونه پکې خوندي ساتلی شو .
*Mail search : دلته کولای شويوترلاسه شوی پیغام په اسانه پیداکړو .
*Web search : دلته کولای شویوه ویب پاڼه ومومو .
* Mail upgrades: له yahoo سایټ سره دګډون پاڼې په معنا ده
* Options دلته ځينې تغيرات راوستلی ، ځينې معلومات ترلاسه کولای اوپاسوردېدلولی شو ،
Delete : *په دې سره کتل شوي پيغامونه له منځه وړلی شو
Spam *:دېبکاره پيغامونواودمزاهمواشخاصودپيغامونورالېږدونې مخه ورباندې نيولی شو .
Msrk* :ځلوردندې لري .
١- يو پيغام د لوستي په شکل راپېژني .
٢- يو پيغام د نالوستي په بڼه راپيژني
٣- يو پيغام د توغ(بيرغ) په بڼه راپيژني.
۴- د توغ همدغه نښه بيرته لرې کوي.
* Move دا دوه دندې لري ، يوه يې د يو فولډرجوړول او بله يې فولډر ته د يو ترلاسه شوي پيغام استول دي.

* Sing out خپله پاڼه ترل او ورڅخه د وتلو له بټنې څخه عبارت دی.
* Attach files له دې لارې کولای شو تصويرونه ، اسناد او ليکنې ولېږو ، د ليږلولار يې داده ، چې د attach file پربټنه فشار راوړو، ګورو چې د Brows پاڼه بيرته شي، پر brows بټنې له فشار راوړلو سره زمونږ د کمپيوټر د حافظې پاڼه پرانستل کيږي ، له هغه ځايه انتخابوو، چې مونږ څه ليږو؟ تصوير ليږو که ليکنه؟ په همدې ډول مونږ کولای شو په پنځو brosesکې پنځه تصويرونه يا ليکنې انتخاب کړو او له هغې وروسته د attach files پر بټنې فشار رواړلو له لارې خپل ټاکل شوي شيان attachکړو ، کله چې دا پروسه بشپړه شوه ، له يوې بلې پاڼې سره مخ کيږو هلته د continue attachment پر بټن فشار راوړو او په شيبه کې د compose پاڼې ته ورځو ، په هغه پاڼه کې د هغه چا د برېښناليک پته ليکو چې غواړو دغه اسناد يا تصويرونه ورته وليږو ، له هغې وروسته د Send پر بټن فشار راوړو دغه مهال ګورو چې مونږ ته د انټر نيټ پاڼه زمونږ د استول شويو فايلونو په اړه ډاډ راکوي او ليکي چې ستاسې پيغامونه ستاسې ټاکل شويو ادرسونو ته وليږل شول.

یادښت:

کله چې وغواړو خپل تصویرونه چاته ولیږو نو ددې لپاره چې د attachment پروسه ژر ترسره شوي وي ، د خپلو تصویرونه وزن یا سایز کمو‌و چې طریقه یې په دې ډول ده: پرټاکل شوي تصویر right click کوو، د Open with له لارې یې په پینټ کې پرانیزو بیا په image کې د stretch/skew له لارې د تصویر سایز ته ٤٠/٤٠ ترهغې هم کم ټاکو بیایې save as کوو، دغه تصویر اوس د پخوا په پرتله څو ځله خپل وزن له لاسه ورکړی .

ددې لپاره چې پوه شو ، دواړه تصویرونه دتصویر په properties کې ګوروچې دلومړي او دویم تصویر ترمنځ څومره توپیر راغلي دي .

څنګه کولای شو رالېږل شوي تصاویر او اسناد ترلاسه کړو ؟

کله چې خپلې اردس پاڼې ته ورننوتو او ګورو چې یوچا موږ ته د attachment له لارې تصویرونه یانور اسناد رالېږلي ، دترلاسه کولو لپاره یې لاندې پروسه مخ ته وړو .

Download attachment

Click on scan and save to computer

Downkload attachment

Save

یادونه: د لا زیاتو معلوماتو د لاسرسي لپاره زما بل کتاب (انټرنیټ څنګه وکاروو) ته مراجع وکړئ.

صیام الدین « پسرلې »

بازگشت به صفحه اصلی

www.said-afghani.org